مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۱/۰۵/۰۷

فقط ۹۰۰

یو ملګری کانټینټال هوټل کې افطاري ته چا میلمه کړی و، کیسه یې کوله:
ویل یې یوه روژه ماتی ۹۰۰ افغانی دی.

ما ویل څوک ور ځي؟

موسک شو: دومره ګڼه ګوڼه وي چې خواړه په مشکل رسیږي. زرې موټر ولاړ وي. وزیران دي، معینان دي، لوی ریسان دي، وکیلان دي او...

ډله ډله له ملګرو او میلمنو سره راځي.

هغه ورځ د یوه وزارت موټران خبره کوله. ویل یې ځوانکی معیوب زوی مې دی. شله دی چې دا اختر به حتما راته کالي کوي.

له کومه یې کړم، له اضافه کاري سره مې معاش ایله ۱۰۰۰۰ ته ورسیږي، شپږ میاشتې کیږي اضافه کاري نشته.

د کور سودا خو په پور اخلو، رخت والا او خیاط سره څه وکړم. یوه جوړه کالي مې ګنډلو سره حساب کړل، ۹۰۰ افغانی کیږي!

ما ویل زمور دولت یواځې د افکارو د توپیرونو لپاره پراخه سینه نه لري، د اقتصادي توپیرونو لپاره یې هم دغه شی پراخه سینه ده!

د دې توپیرونو پراس به یوه ورځ خامخا راوځي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ